UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**ملکري ملتونه له ښکیلو غاړو غواړي چي د افغانانو غوښتني واوري: ملکي تلفات پای ته ورسوئ.**

**د کال د نیمايي راپور ښيي چي ۳۸۱۲ تنه ملکیان وژل شوي او ټپیان شویدي**

**کابل، د ۲۰۱۹ کال د جولای ۳۰ مه** - په افغانستان کي روانه جګړه په دوامداره توګه پر ملکیانو ویجاړوونکي اغیزي پرې باسي. د ملګرو ملتونو وروستي راپور چي نن خپور شو د ۲۰۱۹ کال په لومړئ نیمايي کي ۳۸۱۲ تنه ملکي تلفات ثبت کړي، چي (۱۳۶۶ تنه يي وژل شوي او ۲۴۴۶ تنه نور يي ټپیان دي).

په داسي حال کي چي د ۲۰۱۸ کال ورته مودې پرمهال چي د ملکي مرګ ژوبلي د لوړوالي له کبله ریکارډ لرونکی کال بلل کیږي، د سږکال په لومړیو ۶ میاشتو کي د ملکي تلفاتو کچه ۲۷ په سلو کي کمه شوي ـ ملګري ملتونه په اندیښنونکي ډول د روان کال په دویمه ربع کي د لومړئ هغي پرتله ۲۷ په سلو کي زیاتوالي ښيي.

ملګري ملتونه د ۲۰۱۹ کال د جنورئ له لومړئ نیټي د جون تر ۳۰مي موده کي د ملکي تلفاتو په کچه کي د کموالي هرکلی کوي، خو ښکاري، چي ملکیانو ته دور اوښتي زیان کچه ټکان ورکونکي او د نه منلو وړ ده. د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) مني، چي ښکیلو ډلو د ملکي تلفاتو د کموالي لپاره دیولړ هڅو خبر ورکړ، خو دا هڅي کافي نه دي او تردي ډیر څه باید ترسره شي.

ملګري ملتونه دملکي تلفاتو د کمیدو او صفرکیدو په تړاو د هغي غوښتني ملاتړ کوي، چي د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۷ او ۸ مه په دوحه کي د ټولو ښکیلو افغان ګډونوالو لخوا د بین الافغاني خبرو اترو په ګډه اعلامیه کي په ډاګه شول.

دافغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی تادامیچي یاماموتووایي: "د دوحي په خبرو کي د افغان استازو پیغام ټولو په روښانه ډول واوریده چي ـ " ملکي تلفات صفر کړئ." ښاغلي یاماموتو چي د یوناما مشر هم دی زیاته کړه: " موږ له ټولو ډلو غواړو، چي دغي سپارښتني ته پام وکړي او د خطرناکو زیانونود کمولو لپاره دی بیړنیو ګامونو د پورته کولو په برخه کي د افغانانو غوښتنو ته ځواب ورکړي".

د حکومت مخالف عناصر بیا هم د ملکي تلفاتو د لويي برخي مسوولت لري، خو د کال په دویمه ربع کي د حکومت مخالفو عناصرو پرتله دحکومت پلوو ځواکونو لخوا د ملکیانو مرینه زیاته شویده.

ځمکنی نښتي د ملکي تلفاتو ترټولو مخکښ لامل پاتي شوی. سره له دې چي د ۲۰۱۸ کال د لومړئ نیمايي پرتله له دې اړخه د ملکیانو مرګ ژوبله کي ۱۶ په سلو کي کموالی راغلی، خو بیا يي هم په روان کال کي د ټولو تلفاتو یو پردریمه برخه خپله کړي. د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو کارونه، په خاص ډول له ځانمرګو پرته بریدونه دملکي تلفاتو دویم لامل دی، چي د ټولو تلفاتو ۲۸ په سلو کي له دې درکه رامنځ ته شویدي. ۱۴ په سلو کي نور تلفات د هوايي عملیاتو له کبله رامنځ ته شویدي.

یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ په سلو کي حکومت مخالفو عناصرو ته منسوبوي، چي ۳۸ په سلو کي دطالبانو، ۱۱ په سلو کي د داعش یا د اسلامي دولت د خراسان ډلي او ۳ په سلو کي نور يي دنا مشخص شویو حکومت مخالفو عناصرو لخوا رامنځ ته شویدي.

د ۲۰۱۸ کال د لومړئ نیمايي پرتله د ۲۰۱۹ کال په دویمه نیمايي کي د حکومت مخالفو عناصرو لخوا د ملکي تلفاتو په کچه کي ۴۳ په سلو کي کموالی راغلی دی. دغه کموالی په مشخص ډول د ځانمرګو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له اړخه رامنځ ته شوی. د حکومت پلوه ځواکونو لخوا په ملکي تلفاتو کي ۳۱ په سلو کي ډیروالی راغلی په خاص ډول دغه ډیروالی د پلټني او هوايي عملیاتو له اړخه زیات شویدی.

د ۲۰۱۹ کال د جنورئ له لومړئ د جون تر ۳۰مي نیټي، د حکومت مخالفو عناصرو لخوا ۱۹۶۸ تنه ملکي تلفات رامنځ ته شوي چي (۵۳۱ تنه وژل شوي او ۱۴۳۷ ټپیان) دي. د ځانمرګو او پیچلو بریدونو له اړخه ملکي تلفاتو کي یوڅه کموالی راغلی، په خاص ډول د داعش لخوا ترسره شویو بریدونو کي.

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

یوناما د حکومت مخالفو عناصرو لخوا په قصدي ډول پرملکیانو د بریدونو له اړخه د ۹۸۵ تنو مرګ ژوبله (۳۰۶ تنه مړه او ۶۷۹ تنه ټپیان) ثبت کړې، چې حکومتي چارواکي، قومي مشران، مرستندویه کارکونکي، دیني عالمان، ملایان او په مذهبي او کلتوري ځایونو بریدونه پکې شامل دي. یوناما یوځل بیا تکراروي، چې د حکومت د ملکي کارکونکو او غیر نظامي کسانو په ګډون ملکیان چې په مستقیم ډول په جګړو کې برخه نه لري، باید په هیڅ ډول د بریدونو موخه ونه ګرځي. یوناما پرحکومت مخالفو عناصرو غږ کوي، چې د نړیوال بشردوستانه قانون پراساس له ملکیانو او غیر نظامي کسانو یو تعریف ولري.

د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما حکومت پلوه ځواکونو ته د ۱۳۹۷ ملکیانو مرګ ژوبله منسوبوي چې (۷۱۷ وژل شوي او ۶۸۰ ټپیان دي)، چې دا د ۲۰۱۸ کال ورته مودې پرتله ۳۱ په سلو کې زیاتوالی ښیي. حکومت پلوه ځواکونو ته د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې د ټولو تلفاتو ۳۷ په سلو کې راجع کیږي، چې (۱۸په سلو کې د افغان امنیتي ځواکونو، ۱۲ په سلو کې د نړیوالو نظامي ځواکونو، ۲په سلو کې د حکومت پلوه وسله والو ډلو او پاتې نور یې د نا مشخص شویو مختلفو حکومت پلوو ځواکونو لخوا رامنځ ته شویدي).

د هوایي عملیاتو له کبله ۵۱۹ تنه ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې (۳۶۳ تنه وژل شوي او ۱۵۶ تنه ټپیان)، چې ۱۵۰ تنه یې ماشومان دي، چې (۸۹ وژل شوي او ۶۱ ټپیان) دي. د هوایي بریدونو له کبله د رامنځ ته شویو ټولوملکي تلفاتو په کچه کې ۳۹ په سلو کې زیاتوالی ښي. په داسې حال کې چې د ټپیانو په کچه کې کموالی راغلی، خو د وژل شویو شمیرښه باندې دوه برابره شویدی، چې ددغه تاکتیک وژونکی ځانګړتیا په ډاګه کوي. یوناما په دوامدار ډول د هوایي بریدونو له کبله د ملکي تلفاتو د زیاتوالي په اړه خپله اندیښنه په ډاګه کوي، په ځانګړي ډول هغوی چې د افغان ځواکونو په ملاتړ پرملکي تاسیساتو ځمکني او هوایي بریدونه کوي.

یوناما د هوایي بریدونو له اړخه د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو ۸۳ په سلو کې نړیوالو نظامي ځواکونو ته ، نهه په سلو کې افغان هوایي ځواکونو ته او پاتې اته په سلو کې نا مشخص شویو حکومت پلوه ځواکونو ته راجع کړې.

ښځې په دوامداره ډول په افغانستان کې د جګړو له اړخه په لویه کچه اغیزمنې دي. د ۲۰۱۹ کال د جون تر ۳۰مې پورې، د جګړو له کبله ۴۳۰ ښځو (۱۴۴ وژل شوي او ۲۸۶ ټپیانې شوې) ته مرګ ژوبله اوښتې ده، چې د تیرکال ورته مودې پرتله ۲۲ په سلو کې کموالی پکې راغلی دی.

ماشومانو ته ور اوښتي تلفات د ټولې ملکي مرګ ژوبلې دریمه برخه جوړوي، چې ۳۲۷ تنه یې وژل شوي او ۸۸۰ تنه ټپیان شویدي. د جګړې د پاتې ناچاوده توکو له کبله د ټولو ملکي تلفاتو لوی اکثریت یانې ۸۴ په سلو کې ماشومان دي.

د یوناما د بشري حقونو د برخې مشرریچارډ بنیټ وایي: ”د جګړې ښکیلې غاړې کیدی شي د ملکي تلفاتو د وروستي څرنګوالي په اړخه مختلف توجیهات وړاندې کړي او هریو یې خپل نظامي تاکتیکونه توجیه کړي. هغه زیاته کړه: ”حقایق داسې دي، چې د ملکیانو د تلف کیدو د مخنیوي په تړاو یوه مشخصه هڅه، نه یوازې نړیوال بشردوستانه قانون ته درناوی، بلکې د جګړې د شدت کموالی، دملکي افغانانو مصیبت او غم کموي.“

د۲۰۱۹ کال د نیمایي راپور ــ په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه ډیر معلومات کیدی شي د یوناما پر ویبپاڼه پر دې ادرس ومومئ

## د ملکي وګړو مرګ ژوبله
### له جنوري تر جون پورې ۲۰۰۹-۲۰۱۹




**په جګړه کې د ښکېلو ډلو له خوا ملکي تلفات**
جنوری څخه تر جون ۲۰۱۹



UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN




د لا زیاتو مفصلو معلومات لپاره، په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما راپورونه وګورئ (پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او تولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتداری ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یووالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په ګډون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو او مخنیوي په موخه ' د ښه نیت چارې' او نورو کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالي مرستې همغږې کوي.*